شاه‌جان هاجره حرکت

۲۰۲۶/۰۸/۰۲

# د شپو له زړه وتلي روښنايي

مورړ د شپو له زړه وتلي روښنايي يـوو
په تـړونـو کي د غـرو مـو زرغـونېږو

لـه لـمنـو نـه يـي زهـر تـولـوو مـورړ
لمـر زريـنو وړانگو ځانگو کي ځلېـږو

سـاه مـو نـغښتي د هوا هـره ځپـه کي
د پردو مـخ تـه پرخپل ځواک تل درېږو

زمـورړ لورته د ښکيلاک لاسونه شنډ ځي
کـورړ عـمل ته يي مرئ کي زهـر کـېږو

تـورو خـاورو کي يـوو پټ بهر نه ښکارو
ټيټ نظر ته يي بيا اور يـوو ور خـورېږو

زمـورړ خـتـه محبـت کـي اغـږل شـوي
کرکجن لاس ته يوو تيزاب ليمو ته يي لوېږو

افـغـان خـاوره د سـرکښ بـچيانـو مـور ده
ازادئ غـــږ تــه تــر هسک نه ايسارېږو

کـوم واکـــدار پـــه جبـر نـه دی پـايـدلاي
چي ولسـونـه مـو راضـي وي پـرې ټـولېږو

هاجرې ميندي د دې خاورې په يو غږ وايي
دې اسـلام راکـړي حق تــه بــه رســېږو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ